# د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې لخوا (۶) مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

يکشنبه ۱۴۰۴/۷/۱۳ - ۱۴:۵۶




د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې (۶) کسانو

ته د نشه‌يي تابليتو (ذيکپ او تابليت کا) او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۵/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد مجرمين له اوو مياشتو څخه تر دوو کالو او شپږو مياشتو پر تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو.

ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه.